UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
وینا
http://unama.unmissions.org

**امنیت شورا ته د ملګرو ملتونو د عمومی منشی د ځانګړي استازی، ستفان دی میستورا وینا**

**مارچ ۱۷ کال ۲۰۱۱**

ښاغلی رییس، د امنیت شورا درنو غړو او ښاغلی طنین د افغانستان استازي،

د نن ورځې د غونډې سره په افغانستان کې زما د ماموریت یو کال بشپړ شو او د یوناما د صلاحیت د اوږدولو له مباحثو سره تصادف کوي. له دي امله دا ښه فرصت دی چې د سږ کال په پیښو یو نظر واچوو، د لندن د کنفرانس څخه د لسبون تر عمومی غونډي پوري او په راتلونکي وختونو کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په باب په افغانستان کې چې د افغانی ټولنی له لومړیتوبونو سره سم عیار شوي دي.

څه شي چې دغه پیښی او په افغانستان پوري تړلی حوادث سره نښلوي – د سولی مشورتی جرګه، د کابل  کنفرانس، د پارلمان لپاره ټاکني هغه زیاتیدونکي درک او احساس دی چې افغانان باید خپله رهبری په خپل لاس کې واخلي. د انتقال پروسه په ښکاره ډول د ملی حاکمیت او په دي اصل ولاړه ده چې د افغاني حکومت ظرفیت د خپلو چارو په اداره کولو کې لوړ شي، دغه راز د انتقال پروسه په دې اړتیا زور اچوي چې افغانان یو سیاسی لرلید څرګند او هغه په عملی ډګر کې پیاده کړي. یو لرلید چې یوه  دیموکراسی رامنځته کړی او یو افغانستان جوړ کړي چې په خپل منځ، ګاونډیو او له نړیوالی ټولنی سره په سوله کې ژوند وکړي.

د افغانستان حکومت د قانون پر بنسټ ډیر د دي غوښتونکی دی چې د حکومتداری، پرمختګ په ټولو خواوو کې خپلی هڅی ګړندي کړي څو داسی یوي سولی ته ورسیږي. په دې اړه موږ د هغه پیغام هرکلی کوو چې د باندنیو چارو وزیر ښاغلی رسول عمومی منشی بان کې مون ته استولی دی. او موږ د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو په مرستو باندي د بیا کتنی اراده ستایو او هغه داسی فرصت ګڼو چې په ترڅ کې یې د یوناما فعالیتونه او د ملګرو ملتونو کورنی هغه په مرتبط ډول د یوي ګډي هڅی په څېر اجرا کړي.

په راتلونکو میاشتو کې به ډیر زور په دي واچول شي چې د امنیتی تدبیرونو د انتقال کار پیل شی، ځکه بین المللی پوځی ځواکونه غواړی په تدریجی ډول د امنیت رهبري او مسؤلیت افغانی قواوو ته وسپاري. دا یو ډارونکی ننګونه ګڼل کیږي چې افغاني قواوي د لاډیرو نظامی عملیاتو د مسؤلیت لپاره اوږي چمتو کړي. افغاني امنیتی ځواکونه باید د تېر کال کې لاسته راوړني خوندي او د دوامداره وساتي. په عین وخت کې دوي باید د افغانستان د خلکو باور او اعتماد تر لاسه کړي. دغه کار په داسی شرایطو کې باید تر سره شي چې د طالبانو له خوا تاوتریخوالی او د بیری هڅو په ټول ملک سیوری

یوه سیاسی او پرمختیایی پروسه، په ځانګړی ډول سوله او بیا میشته کیدنه او په سیمه ییزه کچه یوه بنیادي پروسه. دغه پروسه باید د افغانانو او هغو کسانو په منځ کې د ډیالوګ لپاره زمینه برابره کړي چې له بهرنیو تروریستی عناصرو څخه ځانونه ګوښه کوی او دغه پروسه باید ټولو ته د منلو وړ وي.

د انتقال لپاره غوره شوي ولایتونه باید تقدیر شي نه دا چې هغوي هېر او له پامه وغورځول شي. په دي اړه د باندنیو چارو وزیري، هیلری کلنټن خبري په دي باب ډیر څرګندي وي. اوسنی ملکی او نظامی هڅی باید له دیپلوماتیکو هڅو سره همغږي او همنوا شي. د سیاسی پروسی د چټکوالی ضرورت د افغانی او نړیوال برخه والو له خوا په وروستیو وختونو کې په جده کې په ډاګه شوي دي او افغانانو له خوا د ټولو بین المللی هڅو د همغږي کولو غوښتنه شوي چې د افغانستان د ملی حاکمیت اصل ته درناوی وشي.

د انتقال پروسه د دي غوښتنه کوی چې په ملی او ولایتی کچه پایښت لرونکي نهادونه موجود وي تر څو هغوي ته انتقال تر سره شي. له ملی حاکمیت سره نور مسؤلیت او حساب ورکونه تړلی دي او حساب ورکونه په خپله د ا فغانانو له خوا سنجول کیږي، چې خپلواکه اداری جوړ کړي او د اساسی قانون له مخې د قواوو د تفکیک احترام وکړي. افغانانو په دي اړه په دې کال کې د پام وړ بریاوي درلودلي. دوو افغانی خپلواکو ادارو خپل کارونه په پوره مهارت او وړتیا سره د ټاکنو په برابرولو او تخنیکی مرستو په کولو سره سرته ورسول او پارلمان اوس په کار پیل وکړ. د ولسی جرګې د مشرتابه لپاره د ازبک نوماند ټاکنه څرګندوي چې افغانان کولاي شی داسی د حل لاره پیدا کړي چې قومي، ډله ییزو او سیمه ییزو اړتیاوو ته ځواب ووایی. ولسی جرګه خپل اجرایوي هیت بشپړ کړي او په خپل کار یې پیل کړی دی.

ملګري ملتونه د افغانستان له حکومت او د هغه له موسساتو سره خپلی همکاری ته زیات اهمیت ورکوي چې د انتقال پروسه اداره کړي. موږ باور لرو چې په هیواد کې زموږ اوږدي تجربې موږ ته د دي توان راکوی چې د افغانستان له حکومت او بین المللی ټولنی سره د انتقال په پروسه کې مرستی وکړو. په دي بر سیره موږ دي اړتیا ته هم ژمن یو چې له ۲۰۱۴ څخه هاخوا هم له افغانستان سره مرستی وکړو او بین المللی ژمنی د اوږدي مودي لپاره تضمین کړو چې افغانستان د خپلي وړتیا په برکت هیواد عادی حالت ته راوګرزوي.

په تیر کال کې موږ د ملګرو ملتونو او د بین المللی ټولنی د نقش لپاره په لومړیتوبونو زور اچولی او دغه هڅی د افغانی مشرتابه لپاره بنیادي ګامونه وو. موږ په ټوله دي موده کې په دي ټینګار کړي دی چې د افغانانو وړتیا لوړه شی او اختیار په

په دي ډګرونو کي دا برخی شاملی دي، الف:- د هغو هڅو سره مرسته کول چي د افغانانو له خوا رهبری کيږي او غواړی د اعتماد د بيا پيدا کولو په ګډون د جګړی لپاره سوله ييزی حل لاری پيدا کړي. ب:- د بشري حقونو او د ملکی کسانو په ساتنه کي زموږ له اخلاقی صلاحيت څخه کار اخيستل، ج:- په ملی او محلی کچو کي د نړيوالی ټولنی همغږي کول چي د افغانانو له خوا تر سره کيږی، د:- په سيمه ييزه کچه د ملګرو ملتونو د مرستو قدر کول چي د افغانستان د حکومت له همکارانو سره د انتقال په چوکاټ کي کيږي.

سوله بيا ميشته کيدنه او سيمه،

د دي مياشتی په سر کي په جده کي د سولی د عالی شورا د استازو په ګډون د اړيکو بين المللی ګروپ غونډه وکړه. غونډه چي داسلامی کنفرانس د سازمان په مرکز کي جوړه شوی وه د سياسی پروسی د پلوي لپاره سمبوليکی ژمنی څرګندي کړي. تر ټولو مهمه دا وه چي غونډی د سولي د عالی جرګي غوښتنی تصويب کړی چي د سولي او پخلاينی لپاره په کابل کي طرح شوی تګ لاری تقويه شي او ډير ژر په کابل کي سيمه ييز او بين المللی مرستندويه برخه وال سره وګوری. له دی کار څخه دا حقيقت وپيژندل شو چي په افغانستان کي بی ثباتی په سيمه باندي منفی اغيزي شيندی او هم د بين المللی ټولنی د سولی لپاره ډير اهميت لري. دغه دواړه عنصرونه له افغانانو څخه غوښتنه کوی چي د حالاتو کنترول په خپل لاس کي واخلي.

غونډی دغه راز، دي اړتيا ته ګوته نيولی چي نړيواله ټولنه به د افغانستان له مسالو سره علاقه مندی او ژمنتيا څرګندوي. دغه شفافيت د افغانانو له خوا د يوه لرليد په څرګندولو کي مرسته کوي. يوناما د افغانستان په شرايطو کي دي ته ادامه ورکوي چي د سولی د عالی شورا کارونو ته سهولت ورکړی، چي د سلام د ګروپ په ذريعه تر سره کيږي او د ای پی او پی له خوا د رهبري شوي پروسی ملاتړ کوي، چي د ۷۰۰ تنو د بيا ميشته کيدو له لاري نور پرمختګونه کوي.

مشاور وزير ستانکزي دې وروستيو وختونو کي ولايتونو ته د رسيدني لپاره د يوناما د مرستي غوښتنه کړې ده. د بي طرفی او بشردوستانه خصوصيت درلودونکو تماسونو په پام کي نيولو سره ملګري ملتونه به همدارنګه خپلو هڅو ته دوام ورکړي څو د افغاني ټولني ټولو برخو ته ورسيږي. ملګري ملتونه به دغي پروسي ته د دي لاري مشروعيت ورکړي چي د هر هغه چا سره وګوري چا چي د دي سيګنال ورکړي وي چي د ډيالوګ او خبرو اترو لپاره چمتو دي.

د افغانانو تر منځ د پايښت لرونکي سولی لپاره پرته د نږدی ګاونډيانو او ليری ګاونډيانو د ملاتړ څخه د حل لاره نه شته. او افغانستان د آسيا زړه د خپلو نږدی ګاونډيانو او د وريښمو د زړې لاري په امتداد آسيا اروپا ته د غځيدني له امله د اوږدې مودې قوي تاريخي، سياسي، سوداګريزې او فرهنګي اړيکي لري.

د سولي عالي شورا د بهرنيو چارو وزارت، يوناما د سيمه ييز ډيالوګ د ماموريت د لاندې په زياته شوې سيمه ييزه ډيپلوماسۍ کې مشغول دي. او په دې لړ کې ترکيه د افغانانو او نړيوالې ټولنې او سيمه ييزې پروسې مخکښ همکار دی چې په راتلونکې منۍ کې د استانبول د کنفرانس لپاره زمينه برابره کړي.

بشري حقونه/بشردوستانه/ د ښځو مسالې او ملکي تلفات د افغانستان د دولت او د افغانستان د خلکو لپاره د زياتې انديښنې وړ مسالې دي. د ۲۰۰۷ کال را په دې خوا ۹۰۰۰ ملکي افغانانو په جګړه کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی، چې زياتره کالنۍ شميره د تلفاتو ۲۷۷۷ هغه ملکي مړينې دي چې په ۲۰۱۰ کال کې رامنځته شوې دي. دا د احصاييود شمېرې ځرګندونې دي، خو د هر ملکي مړينه د يوه انسان مړينه او د يوه شخص مړينه ده، او مونږ په دې ټينګ يو چې د هيڅ يو انسان مړينه د منلو وړ نه ده. په ټوليز ډول دغه وحشتناکه احصاييې دا په ډاګه کوي چې مونږ په منفي تمايل او جريان پوه شو. دا همدارنګه زمونږ ژمنه زياتوي چې په وسله واله جګړه کې د اخته اړخونو په سلوک کې د بدلون لپاره اغيزه ولرو. مونږ په دې پوهيږو چې د ملکي وګړو د تلفاتو د کمولو لپاره ښه لاره دا ده چې دغه جګړه پای ته ورسوو. خو له هغه ځايه چې مونږ د نظامي فعاليتونو د زياتوالي شاهدان يو، چې د نظر د اتفاق له مخې مونږ اړ يو هغه د سياسي اړخ سره پرتله کړو نو د دې کيلي دا ده چې ۲۰۱۱ کال بايد همدارنګه د ملکي وګړو د ساتنې او ژغورنې د زياتوالي کال شي.

په عين وخت کې مونږ بايد دې ته چمتو واوسو ځو د جګړې له امله را منځته شوو زياتو بشردوستانه اړتياوو ته غبرګون وښايو(لکه هر څومره زيات يې چې بې وزلې او طبيعي ناورينونو ته کوو). روانه جګړه ملکي وګړي د بې ځايه کيدنې د لارې اغيزمنوی او زياتره هغوي د دې سره مخامخ کوي چې هر ډول بنسټيزو خدمتونو ته رسيدنه ولري. مونږ لا هم د موجودو بشردوستانه اړتياوو په تيره بيا د راستنو شوو کډوالو د اړتياوو د پايښت لرونکې حل د لارو چارو په لټه کې يو چې دغه کډوال د ټول نفوس ۲۵ سلنه جوړوي او ۴۰ سلنه لا اوس هم د بيا يو ځای کيدنې او بيا ادغام ته ډيره زياته اړتيا لري.
په پای کې دا ډيره مهمه ده څو د نارينه وو، ښځو، نجونو او هلکانو لپاره حقونه د هغوي ګټې او محدوديتونه په سياسي، ټولنيزه او اقتصادي اجنداء کې په پام کې ونيسو. د ښځو د تحفظ مرکزونه/امن ځايونه د زيانمنيدونکو ښځو لپاره، د هغوي په ګډون چې د تاؤتريخوالي او ناوړه ګټې اخيستنې سره مخ دې ډير زيات مهم خدمتونه برابروي.

د دولت دا هلې ځلې چې د ښځو د امن ځايونو د تنظيم لپاره دي او هغه معياري کوي د دغو مرکزونو د دولتي څارنې او نظارت لپاره مناسبې دي او ستاينه يې کيږي. په ګډ ډول د دولت له خوا او په خصوصي توګه اداره کيدونکې امن ځايونه د نړيوالو تجربو په پام کې نيولو سره د ښځو په ګټه دي. وروستۍ موخه دا ده څو دا باوري کړاي شي چې هغه ښځې او نجونې چې د کورنې تاؤتريخوالي څخه تښتې له ورته د پناه ميندنې او ژغورنې مصؤن او با امنه ځايونه موجود وي. دا هم دارنګه ډيره مهمه ده چې هغوي د دغه ډول تاؤتريخوالي څخه د تيښتې له امله د هيڅ ډول سزا سره د بنديتوب په ګډون مخامخ نه وي.

د پښتی پل

انتقال، ملکی انتقال په خپل ذات کې یو التزام او یو فرصت دی. یو امکان دی چې وربانديي تمرکز وشي. دا د افغانستان د پرمختیا د دولت د سیسټمونو د غوره تسلسل او کتاروني، او د مرستې د زیاتوالي (که څه هم لنډ مهاله وي) د لومړیتوبونو یوه ډیره مهمه ټولګه ده. دا همدارنګه یو امکان دی څو د سولې، د ملی لومړیتوبونو لکه د کابل د پروسې او د افغانستان د سولې ، بیا میشته کیدنی د پروګرام لپاره د ارتباط ورکولو د فرصت د لارې ونده واخیستله شی. د افغانی لیږد پروسه به د دې اړتیا ولري چې هغه باید هم پایښت لرونکې وي او هم د پام وړ وي. په دې زمینه کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو په ولایتی کچه شتون د دولت سره په دې لاندې برخو کې ملاتړ کوي:
همغږي، حکومتداری، بشري حقونه او د قانون حاکمیت، د بنسټیزو ټولنیزو خدمتونو د رسولو سره ملاتړ – لکه روغتیا، پوهنه او کرهنه، پایښت لرونکی معیشت، بشردوستانه اقدام، او د ظرفیت جوړول.

د دولت د لومړیتوبونو سره د ملګرو ملتونو په ملاتړ کې دا ټکی شامل دي:
الف: په ولایتی کچو د حکومت د لومړیتوبونو لپاره د نړیوال تمویل د ترتیبولو لپاره مدافعه او ملاتړ ب: د تخنیکی ظرفیت او ملاتړ برابرول او د ولایتی ادارو لپاره د مرستندویه موسسو د هڅو همغږي کول، ج: د سکتوری وزارتونو له خوا د ضروري خدمتونو د رسولو لپاره د هغوي د ظرفیتونو پراختیا، د: د هغو ولایتونو تر منځ د برابرو امکاناتو لپاره غږ کول چې د انتقال د پروسې لپاره په نښه شوي دي او هغه چې لا تر او سه چمتو نه دي، او ه: د دې باوری کول چې د انتقال لپاره چمتوالی د محلی اړتیاوو او شرایطو د تنوع او زیاتوالی سره په تطابق کې دي.

زمونږ ځواکمني او مقایسوي وړتیا او امتیاز د دې واقعیت څخه سر چینه اخلی چې مونږ متنوع او څو اړخیز یو. د ملګرو ملتونو د ۳۰ موسسو تمویل او پروګرامونه د یوناما سره یو ځای په ۳۴ ولایتونو کې روان دي چې په تېر کال کې یې ۹۰۴،۵ ملیونه ډالره مصرف کړي دي. ملیونونو افغانانو د ملګرو ملتونو د ملاتړ څخه د هیواد په کچه د ګوزن د ناروغۍ پر خلاف واکسین څخه ګټه اخیستی ده، بنسټیزو روغتیایی خدمتونو، د خوراکي ملاتړ پروګرامونو ته رسیدنه شه شوې ده او د هغو افغانانو سره چې د نورو هیوادونو څخه راستانه شوي دي مرسته شوې ده، پوهنې ته رسیدنه زیاته شوې ده چې په دې کې هغه سیمې هم شاملې دي چې د شورشیانو څخه نیول شوي دي.

د خوړو نړیوال پروګرام د نږدی ۷،۳ ملیونو زیانمنیدونکو افغانانو لپاره هر کال د ۳ لکه میټرک ټنو څخه زیاتو خوراکي تکو مرسته رسولي ده. د خوړو په بدل کې د روزنې د پروګرام له لارې نږدی ۱۳۵۰۰۰ چې زیاتره یې ښځې دي (ټولټال ۸۰۰۰۰۰) ګټه اخیستونکي روزل شوي دي د خوړو په بدل کې د کار د ګټه اخیستونکو شمېره ۱،۸ ملیونو وګړو ته رسیږي. د زده کړو لپاره د خوړو د مرستو څخه ۱،۱ ملیونه ماشومانو په ۵۶۵۶ ښوونځیو کې برخمن شوي دي. د دې سر بیره د خوړو نړیوال پروګرام د ۱،۶ ملیونو هغو وګړو سره چې د جګړې له امله اغیزمن شوی دي او یا هم د انسانی او طبیعی ناورینونو له امله اغیزمن شوي دي مرسته کړې ده.

د روغتیا نړیوال سازمان او یونیسف د روغتیا د وزارت سره مرسته کوي چې د ۵ کلنی د عمر څخه د لږ عمر درلودونکو د ۷،۵ ملیونو ماشومانو لپاره په پروایز پروګرام کې واکسین تطبیق کړي. د ملګرو ملتونو د وګړو وجهی صندوق موسسې د روغتیایی پاملرنې د خدمتونو اساسی بستې ته د رسیدنې په برخه کې ۶ لکو وګړو ته په هغو لیریو پرتو سیمو کې پراختیا ورکوی چې لا تر اوسه د روغتیایی پاملرنې تر پوښښ لاندې نه دي راغلی.

د ملګرو ملتونو د کډوالو د چارو عالی کمیشنرۍ د حکومت سره یو ځای کار کړی دی چې د ۲۰۰۲ کال راهیسې د خپلې خوښې د پروګرام د ۴،۵ ملیونو څخه زیات کډوال هیواد ته راستانه شي.

د نن ورځې پورې د ملګرو ملتونو د ماین پاکی پروګرام ( یو این مکا ) په ۲۵۰۰ کلیو کې زیانمنونکې توکي پاک کړي دي چې یوازی په ۲۰۱۰ کال کې د ۳ لکو څخه زیات ماینونه یې پاک کړي دي.

د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام په ملاتړ افغانی چارواکو د ولسوالی د پرمختیا شوراګاني کابو په ټولو ولایتونو کې جوړې کړیدي. د ۷۴۰۰ څخه د زیاتو د ملکی خدماتو بستونه په نوي تشکیل کې راوستل شویدي او پر تنخواه ګانو یې له سره غور شوی دي.

په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان د مخدره موادو سره د مبارزی د ۲۶۰۰ پولیسو سره د بنیادي تاسیساتو، تجهیزاتو، روزنې او څارنې د چارو په برخه کې مرسته شوې ده.

یوناما په دې وروستیو وختونو کې د ( ایکاو اس جی ) لپاره د ځانګړي استازی د ټاکنې په برخه کې د افغاني چارواکو او همکارانو په غوښتنه مرسته کړې ده . دا د دې امکانات برابروي چې د افغانستان د ملکي هوانوردی لپاره چې د افغانستان په څیر په وچه کې د محاط هیواد لپاره یو ډیر مهم سکتور د ی د یو همغږه کوونکي پلان لپاره وړاندیزونه وکړي (چې په بشردوستانه مرستو، ظرفیت او د اقتصاد په پر مختیا اغیزه لري).

مخدره توکي

اوس د افغان او نړیوالی سولې د ټیکاو یو بل ګواښ ته راځو.

د مخدره توکو مساله هغه برابره مساله ده کوم چې د نړیوالی ټولنې د برخه والو ګډ مسولیت غوښتونکې دی. په تیرو څو کلونو کې د حکومت له خوا پرمختګ شویدي. وضعیت اوس هم حاد دی او حکومت بیا هم زموږ بشپړ ملاتړ ته اړتیا لري. هغه حقایق چې په افغانستان کې د روږدی کیدلو د ډراماتیک وضعیت ښکارندوي دي، په بیره سره زیاتیږي او د علاج زیر بناوي لږ دي. د تریاکو بیه مخ په پورته روانه ده، یو کال مخکې د یو کیلو ګرام تریاکو بیه په منځنی ډول ۹۵ امریکایی ډالره وه چې نن ورځ دغه بیه نږدې دری برابره شوې ده.

نیول شوي تدبیرونه باید بشپړ دوران (ځنځیر) متاثره کړي، د کوکنارو د کښت د ورانولو څخه نیولی بیا تر بدیل کښت ، مخکنی کیمیاوي توکي او په نړیواله کچه د تقاضا تر کمیدلو پوري. د نړیوالو همکارانو تر منځ همغږي (سی آی اسو سی اس ټي او، ای سی او، ناتو، ایساف، او اس سی ای، او همدارنګه اس سی او) باید په پام کې وساتل شي.

کوم شي ته چې اړتیا شته هغه د کروندګرو ټولنو او مرسته کوونکو تر منځ یوه ټولنیز قرارداد دی. په ولایتی کچه او د ټولنو په سطحه کې د سیاسی ارادي هڅول باید یوازی د ژوندانه پر بدیل باندي موکول نه وي. دا باید د ملاتړ د بشپړ بستی ټول شیان احتوا کړي او هغو ځانګړو ولسوالیو ته وړاندي شي چې د جګړی او د ناقانونه محصولاتو د کرلو له امله زیانمنیدونکی ولسوالی دي. د بلي خوا د ټولنیزو قراردادونو له مخي، مرستی باید تر بحث لاندي و نیول شي که چیری د کروندګرو ټولنی خپلی د موافقی اړخونه تر سره نه کړي.

زه له دي لاري د نړیوالی ټولنی څخه غوښتنه کوم چې د افغانستان د حکومت په دننه کې د مخدره توکو پر ضد د موسساتو ظرفیت جوړ کړي تر څو دوي وکولاي شی د استثنای وضعیت سره په پریکنده ډول مبارزه وکړي.

نتیجه،
په یوه مهم کال کې، د سږ کال په ډول ډیره مهمه ده چې نړیوال همکاران د خپلو افغانی ملګرو سره بیا پر یو میز باندي سره را ټول شي، پر ورتو مسالو باندي تمرکز وکړي چې ورته پایلی لري، ورته پیغام رسوي او د ورتو موخو په لار کې عمل کوي.

موږ د افغانی چارواکو له خوا په لوړ آواز روښانه پیغام واوریده. دا د ملی حاکمیت کال دی او موږ نه شو کولاي چې د کارونو سره د تېر په ډول چلند وکړو. موږ باید په ثابت ډول سره خپله تګلاره او فعالیتونه د افغانی مشرتابه او د خپلو افغانانو د لومړیتوبونو پر بنسټ برابر کړو. په راتلونکی کې باید موږ د خپل افغانی شریکبانو سره په دی اړوند کار وکړو. دا په دي خاطر دی چې د انتقال د لومړیو پړاونو څخه له دوي سره مرسته وکړو چې دوی وتوانیږي په بشپړ ډول سره امنیتی او سیاسی لاسته راوړنی د دغه بیړنی زمانی چوکاټ وروسته هم وساتي.

ملګري ملتونه د افغانستان د حکومت سره ۶۰ کلن پخوانی ملګرتیا لري او تر هغه وخته به په هیواد کې پاتي شی چې دوي دی مرستو ته اړتیا ولري. زموږ د اوږدی مودی حضور به پر ملکی وګړو په تمرکز باندي پاتي وي.
په دي ډول یوناما د نورو زیاتو مسؤلیتونو سره د انتقال په دغه موده کې د افغانستان د حکومت د یو ملاتړ کوونکی موقف ځان ته نیولی دی. په ورته وخت کې یوناما به د افغانستان د خلکو د ملاتړ کوونکي او مبلغ کار ته دوام ورکړي، بشری مرستو ته پام واړوي او د جګړی پر ټولو خواوو باندی غږ کوي چې د ملکی وګړو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي.